دَ رمضان او قرآن کریم دَ عظمت په باره کښې
لیکلی شوی نوی ښکلی نظمونه

# رمضان او قرآن

شاعر

مولانا احمدعلی مردانی

Ketabton.com

ناشر

پاک تیوشن اکیډمی

یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان

03129818511, 03208086524

# بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

## حمد باري تعالیٰ

لاشريکه ذات دے يَو
هغه په صفات دے يَو
هغي ربَ ته ژاړو مونږ
هغي ربَ نه غواړو مونږ
دَ هرڅيز خالق هغه
مونږ منو رازق هغه
دا مي عقيده دلته
حقه هرجمله دلته
دَ هرچا مشکل کشا
دَ هرچا دے رهنما
ربَ ورته مونږ وايو تول
داسبق مونږ ښايو تول
ستا ايمان احمده! دا
ستا بيان احمده! دا

---

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خوك چي وائى محمد ﷺ لره نبى ﷺ نه منم
ورسره هيڅ کله دلته کښي دوستي نه منم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لعنتي دے په حضور ﷺ چې كلك ايمان نۀ لري

لعنتي دے دا ايمان چې په جهان نۀ لري

دا بشر ، په جار وايم جنتي نۀ منم

څوك چې وائي محمد ﷺ لره نبي ﷺ نه منم

بې له دې نه دَ ايمان وجود بقا نشته دے

بې له دې نه حقيقت حقه وينا نشته دے

دا شوه داسې دَ الله حقه وحي نۀ منم

څوك چې وائي محمد ﷺ لره نبي ﷺ نه منم

نۀ قرآن ، نه احاديث دَ پيغمبر ﷺ به مني

نۀ اصحابؓ ، نه اولياء په لر او بر به مني

څوك چې وائي خپل آقا زۀ مدني ﷺ نه منم

څوك چې وائي محمد ﷺ لره نبي ﷺ نه منم

ورله نشته دے سكون په يو مقام دلته كښې

حقيقت دے دَ احمد على كلام دلته كښې

دَ اسلام هغه دښمن ، هغه باغي نۀ منم

څوك چې وائي محمد ﷺ لره نبي ﷺ نه منم

---

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

محمد ﷺ پسې دُنيا كښې يو نبي ﷺ نۀ منم

ورسره زۀ يو بشر هم مساوي نۀ منم

دا رُتبه ورله ورکړے رب مولا دلته ده

مرتبو کښي ئي رُتبه ښکاره بالا دلته ده

برابر ورسره يو بشر ولی نهٔ منم

ورسره زهٔ يو بشر هم مساوی نهٔ منم

صداقت ئي دَ جهان خلقو منلے هرخوا

امانت ئي دَ جهان خلقو منلے صفا

داسي بل بشر ښکاره زهٔ صفتی نهٔ منم

ورسره زهٔ يو بشر هم مساوی نهٔ منم

په دوستي کښي ئي عزت په هر مقام پروت دے

په دوست کښي ئي جنت په هر مقام پروت دے

دَ دښمن سره ئي هيڅ کله دوستی نهٔ منم

ورسره زهٔ يو بشر هم مساوی نهٔ منم

شريعت سره ئي تل مينه پکار دلته ده

هر سنت سره ئي تل مينه پکار دلته ده

مخالف ئي بدعتی دے بدعتی نهٔ منم

ورسره زهٔ يو بشر هم مساوی نهٔ منم

اوَلين دے آخري ئي دے اُمت دا په جهان

آخرين دے آخري ئي دے کلام دا پاك سبحان

رهنما بل دَ جهان دَ يو ژوندی نه منم

ورسره زهٔ يو بشر هم مساوی نهٔ منم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے احـمـده ! ستـا ويـنـا حـقـه وينـا دلتـه کښي
ستـا شـعـرونـه مـلـغلـري دَ دُنيـا دلتـه کښي
نـعـت پـه کښي چـې نـهٔ وي هغـه شاعـري نـهٔ منم
ورسـره زهٔ يـو بشـر هـم مسـاوي نـهٔ مـنـم

..................................................

نظم...... دَ رحمتونو جوړ باران دے په روژه کښي
مـزې پـه هـر طـرف دَ مسـلمـان وي پـه روژه کښي
ځـکـه دَ رحـمـتـونـو جـوړ بـاران وي پـه روژه کښي
کـولاؤ وي دروازې دَ رحـمـتـونـو هـر سـاعـت
کـولاؤ وي دروازې دَ جـنـتـونـو هـر سـاعـت
مـوسـم د پسـرلـی پـه هـر مکـان وي پـه روژه کښي
ځـکـه دَ رحـمـتـونـو جـوړ بـاران وي پـه روژه کښي
هـر خـواتـلاوتـونـه وي دَ هـر مـؤمـن پـه ژبـه
حسيـن شـکـلـې ذکـرونـه وي دَ هـر مؤمـن پـه ژبـه
پـوره پـوره هـر خـواتـه اطـمـيـنـان وي پـه روژه کښي
ځـکـه دَ رحـمـتـونـو جـوړ بـاران وي پـه روژه کښي
هـر خـواتـه جـمـاتـونـو کښي مـحـفـل دَ تـراويـحـو
هـم دارنګ پـه کـورونـو کښي مـحـفـل دَ تـراويـحـو
اسبـاب دا دَ سـکـون وي اطـمـيـنـان وي پـه روژه کښي
ځـکـه دَ رحـمـتـونـو جـوړ بـاران وي پـه روژه کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثواب قدر قيمت دَ هرنيکي په کښي ډيريږي

تله به دَ ميزان په دې اعمالو ستا درنيږي

ګواه اُوسه خوشحاله هر انسان وي په روژه کښي

ځکه دَ رحمتونو جوړ باران وي په روژه کښي

کمال لري هم دا چي شيطانان په کښي قيديان شي

سرکشه شيطانان په کښي هرخواته بنديوان شي

محفوظ له هر شيطان نه مؤمنان وي په روژه کښي

انسانه! نظر اُوکړۀ جماتونه وروره! ډك شو

خالي شول کورونه ښه ځايونه وروره! ډك شو

اثر ددې خبرې تل عيان وي په روژه کښي

ځکه دَ رحمتونو جوړ باران وي په روژه کښي

.............................................................

نظم............... راغے رمضان په مونږه

راغے رمضان په مونږه .... وروره ! تلاوت کوه

فکر هر ساعت په کښي دَ قبر آخرت کوه

مه کوۀ ګناه په کښي ، هم مۀ وايه دروغ په کښي

ډير ډير عبادت کوه کۀ وروره ! تۀ ئي روغ په کښي

مور پلار کۀ ژوندی لرے ، خدمت ددوی خدمت کوه

راغے رمضان په مونږه .... وروره ! تلاوت کوه

نۀ روا هيڅ لره کنځل په يو مقام په کښي

نهٔ روا دي تالره رټل دَ وروړ مدام په کښې

پرهيز ناروا نه درته وايم له غيبت کوه

راغې رمضان په مونږه .... وروره ! تلاوت کوه

ذکر پټ په جار کوه دَ لا اله الا اللّٰه

ذکر په هر لار کوه دَ لا اله الا اللّٰه

صفائي په دي سره دَ زړهٔ دي هر ساعت کوه

راغې رمضان په مونږه .... وروره ! تلاوت کوه

ژبه دي لمده ساته په ذکر او اذکار سره

هر طرف ته کار ساته دُنيا کښې دَ خپل کار سره

هر يوي ګناه نه په کښې سوال دَ مغفرت کوه

راغې رمضان په مونږه .... وروره ! تلاوت کوه

غواړه پناه غواړه جهنم نه بار بار په کښې

ښنګ چې لازمي دے هر بشر له استغفار په کښې

سوال په کښې په شوق سره له ربَ نه دَ جنت کوه

راغې رمضان په مونږه .... وروره ! تلاوت کوه

خيال دي دَ روژې ساته ، درنه ئې په اعمالو کړه

خيال دي دَ روژې ساته ، خائسته ئي په اعمالو کړه

هر يوه نيکي کوه سخي شه ، سخاوت کوه

راغې رمضان په مونږه .... وروره ! تلاوت کوه

پريږده هرګناه په کښې کهٔ سود دے او کهٔ غلا په کښې



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـل مـدام پـکـاره ده اے احـمـده ! حق ویـنـا پـه کـښـي
کـار دَ خـیـرخـواهـي پـه کـښـي مـدام دَ دي اُمَـت کـوه
راغـے رمـضـان پـه مـونـږه .... ورورہ !تـلاوت کـوه

------------------------------------------------------------

نظم.......... هریو خبره دي منم قرأنه !

هـــریـــو خبـــره دي مــنـــم قـــرأنـــه
کـامـیـابـی نیشتـه دے بـغیـر لـه تـانـه
تـاسـره میـنـه مـحبـت پـکـار دے
عـمـل پـه تـا تـل هـر سـاعـت پـکـار دے
سـفـارشـی ئـي پـه الـلّـه اے گـرانـه !
کـامـیـابـی نیشتـه دے بـغیـر لـه تـانـه
تـه ئـي کـلام زمـا دَ رب واضـحـه
تـه حـق پیـغـام زمـا دَ ربَ واضـحـه
بـچ کـوے مـونـږه لـه هـریـو شیـطـانـه
کـامـیـابـی نیشتـه دے بـغیـر لـه تـانـه
خیـري سـتـا دی سَـم لـعـلـونـه دلتـه
خیـري سـتـا دی سَـم گـلـونـه دلتـه
سپـرلـي راووتـي ئـي لـه هـر خـزانـه
کـامـیـابـی نیشتـه دے بـغیـر لـه تـانـه
تـا دَ تـوحیـد ښـکـاره اعـلان کـړے دے

مخالفت تا دَ شیطان کړے دے

ژبه خوږه لرے شیرین بیانه

کامیابی نیشته دے بغیر له تانه

دَ رسالت سبق هم تا ښودلي

دا اُخُوّت سبق هم تا ښودلي

تهٔ نازل شوي ئې له پاس اسمانه

کامیابی نیشته دے بغیر له تانه

په محمد خیر الابرار ﷺ نازل ئې

تهٔ دَ نبیانو په سردار نازل ئې

جبرئیل راوړے ئې له حق سبحانه

کامیابی نیشته دے بغیر له تانه

په تلاوت دې ثوابونه ډیر دی

په تلاوت دې برکتونه ډیر دی

دوستي دې غواړمه له ربَ رحمانه

کامیابی نیشته دے بغیر له تانه

ستا له وجود نه محبت ښور شوے

ستا له وجود نه نور رحمت ښور شوے

تن خوشبوداره لرے اے قدردانه!

کامیابی نیشته دے بغیر له تانه

هریو خبره دې ریښتیا دَ جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



هــــــریـــــو خبـــــره دي صـــــفــــــا دَ جهــــــان
تـــهٔ مــحــافــظ ئــي لـــه هریـو نـقـصـانــه
کـــامیـــابـــی نیشتـــــه دے بــغیـــر لــــه تـــانــه
ستـــــا پــــــه وجـــود بـــانـدي ایـمـــان لازم دے
احـــمــــــده ! دا پـــــــه مسلــــمـــــان لازم دے
خیـــر خــوا دَ هــرچـــا تـــهٔ ئــي عـــالیشـــانــه
کـــامیـــابـــی نیشتـــــه دے بــغیـــر لــــه تـــانــه

..................................................................

نظم .....بیا بیا ختم القرآن دے

زمـونـږه دَ کـلـی ټـول جمـاعـت پـه نور روښان دے
بیــا بیــا ختـم القـرآن دے ....... هریو تـه مبارك شـه
دا دَ هــــــــریــــــــو دلـتـــــــــه ارمـــــــان وو
ارمــــــان دَ هـــــریـــــو مســـلـــمـــــان وو
پــوره ارمـــان ئــي پــــه ژونـدون ددي جهـــان دے
بیــا بیــا ختـم القـرآن دے ....... هریو تـه مبارك شـه
یـــــو تـــــلاوت پـــــــه مـــصـــلـــــه کـــړهٔ
مـــونـــږ سـمـــاعـــت ئــي هـــر شپـــه کـــړهٔ
سـمـــه ښـادی ، سَم پسرلـی پـــه هــر مـکـان دے
بیــا بیــا ختـم القـرآن دے ....... هریو تـه مبارك شـه
دوی بـــــرداشـــــت کـــــړے مشــقـــت ډیـــــر

تکلیف دُنیا کښي هر ساعت ډیر
دَ رحمتونو عجیبه ښکلي دوران دے
بیا بیا ختم القرآن دے ...... هریو ته مبارك شه

احمده ! خوند مزه ئي ډیره
برکتی میاشته نهٔ کړے هیره
سکون دَ زړونو په کښي هر خوا اطمینان دے
بیا بیا ختم القرآن دے ...... هریو ته مبارك شه

..........................................................................

نظم .....رمضان دے ورسره ختمِ قرآن دے

دَ رحمتونو عجیبه ښکلي دوران دے
رمضان دے ورسره ختمِ قرآن دے... دَ تولو مبارك شه

هم برکتونه دَ روژي دی
په تراوو خائسته ئي شپي دی
دي خوش نصیبه ، چي ئي څوك هم قدردان دے
رمضان دے ورسره ختمِ قرآن دے... دَ تولو مبارك شه

واړه او لوئي په کښي خوشحاله
په مینه ځي دَ یو بل خواله
سرکش شیطان دَ ربّ په حکم بندیوان دے
رمضان دے ورسره ختمِ قرآن دے... دَ تولو مبارك شه

ډك هر جماعت له انسانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـــــائستـــــــه پــــــه لـــويـــو او ځـــوانـــــانـــو
يــو عــجيبــه شــکـلـي مـنـظـر پـه ټول جهـان دے
رمـضان دے ورسره ختمِ قرآن دے... دَ ټولو مبارك شه
اول رحــــمـــــــت ئـــي پـــــــه شـــورو کښـــــي
پـــتې مـــغـــفـــرت ئـــي ورځـــو شپـــو کښـــي
آخــرئـــي اور نـــه تـل نـجـات دَ مسـلـمـان دے
رمـضان دے ورسره ختمِ قرآن دے... دَ ټولو مبارك شه
پټــــــه پـــــــه کښـــــي دَ قـــدر شپـــــــه ده
نـــورانـــــى ئــــي هــــريــــو حــــصـــــــه ده
احـــمــدہ ! فــضـل او دَ کـرم دَ پـاك سبـحـان دے
رمـضان دے ورسره ختمِ قرآن دے... دَ ټولو مبارك شه

.............................................................

نظم .................... بيا ختم دَ قرآن دے

جـمـاعـت کښـي هـرطـرف تـه سَم نورشورو باران دے
بيــــا ختـــم دَ قـــرآن دے دَ ټــولـــو مبـــارك شتـــه
سبـــب دَ ثــوابــونــو ..........کتـــاب دا دَ اللّــه دے
سبـــب دَ نـعـمـتـونـو .........کتـاب دا دَ اللّـه دے
خـوشـحـالـه ورسـره پـه هـرطـرف ورو کـي ځوان دے
بيــــا ختـــم دَ قـــرآن دے دَ ټــولـــو مبـــارك شتـــه
سبـب دَ کـامـيـابـي دے ......... مـنـى دا مسـلـمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



باعث دَ خوشحالي دے ..........منى دا مسلمان

پـه دې نسبت سره هريو بشر جوړ عاليشان دے

بيـا ختم دَ قـرآن دے دَ ټـولـو مبـارك شتـه

سبب دَ هرسكون دے ......هرخواته په دُنيا كښې

اعلائې هر مضمون دے ......هرخواته په دُنيا كښې

كلام شيرين دُنيا كښې دَ مولا غنى سبحان دے

بيـا ختم دَ قـرآن دے دَ ټـولـو مبـارك شتـه

پيغام دَ محبت ......دُنيا كښې دا كلام دے

رحمت ټول بركت ....دُنيا كښې دا كلام دے

شيطان ورسره هرخواته په غم دے په لړزان دے

بيـا ختم دَ قـرآن دے دَ ټـولـو مبـارك شتـه

باعث دَ مغفرت ......دَ ټولو گناهونو

باعث دَ هر عزت ....سبب دَ جنتونو

احمده ! ورسره سكون هرخوا په ټول جهان دے

بيـا ختم دَ قـرآن دے دَ ټـولـو مبـارك شتـه

.........................................................................

نظم .....دَ قرآن په شان كتاب بل په جهان نشته دے

دَ قرآن په شان كتاب بل په جهان نشته دے

بې له دې نه ښۀ ښكاره واضح بيان نشته دے

ورله راشه كه تۀ غواړے نن شفا دلته كښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبلیدل کـۀ دلتـه غـواړے دَ دُعا دلتـه کښې
داسـې ښکـلـې بل کتاب ښۀ عالیشان نشته دے
دَ قـرآن پـه شـان کتـاب بـل پـه جهـان نشتـه دے
پـه لـوستـلـو ئـې ثـواب هـریـو بشـر لـه ښـۀ ډیر
ښـۀ مـلـګـرے هـر بشـر لـه، هریـو در لـه ښـۀ ډیر
ښـۀ مـلـګـرې داسـې بـل پـه یـو مـکـان نشتـه دے
دَ قـرآن پـه شـان کتـاب بـل پـه جهـان نشتـه دے
مـجـمـوعـه دَ احـکـامـاتـو دَ مولا دلتـه کښې
مـجـمـوعـه دَ احکـامـاتـو ښـۀ صفا دلتـه کښې
بـې لـه دې نـه یـو بشـر لـه اطمینـان نشتـه دے
دَ قـرآن پـه شـان کتـاب بـل پـه جهـان نشتـه دے
حفـاظـت کښـې تـل اُوسیـږه لـه هـر غم نـه پـه دې
بچ کـړه بچ دا خپل وجـود لـه هـر تـورتـم نـه پـه دې
بـې لـه دې نـه حـفـاظـت دَ یـو انسـان نشتـه دے
دَ قـرآن پـه شـان کتـاب بـل پـه جهـان نشتـه دے
هـر سبـق ئـې ښـه پـوره پـه هـر صفـت سـره تـل
ژبـه تـر سـاتـه مـدام پـه تـلاوت سـره تـل
اے احـمـده ! بـل کتـاب شیـریـن بیـان نشتـه دے
دَ قـرآن پـه شـان کتـاب بـل پـه جهـان نشتـه دے
بـې لـه دې نـه حقیـقـت ښـکـاره عیـان نشتـه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ قرآن په شان کتاب بل په جهان نشته دے

..............................................................

## دَ قرآن کريم عظمت

حل قرآن کښي دَ دُنيا دَ مشکلات شته

حقيقت دے ماسره دا معلومات شته

دَ مولا خبري ټولي دلته دا دي

دَ حکمت هغي کتاب کښي واقعات شته

مونځ، روزه کۀ دَ زکوة حکمونه ګوري

هر بشر له په کښي نور شته احکامات شته

دَ مريض دَ هر مرض شفا دوا ده

په کښي نور هم اضافي ډير کمالات شته

لا ثاني په کلامونو کښي کلام دے

هر طرف ته ئي دُنيا کښي اثرات شته

تلاوت ئي عبادت کار دَ ثواب دے

نور رحمت، ددي کتاب ډير برکات شته

څوك خو شته دے چي په امر ئي پيدا يُو

راته وائي يو خالق کائنات شته

دَ نيکي تعليم له دي نه عام شو دلته

په کښي ټوله خيرخواهي دَ معاملات شته

منع کړي ئي له بدو نه هر خوا يُو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وائــي مــونـــږ تـــه، تپـوس کـولـو والا ذات شتــه
ستـــا شـعـــرونـو کښـــي احـمـده ! نـــه ځـــائـيـــږي
عـــلاوه ددي نـــــه نـــورئــــي هـــم صــفـــات شتـــه

------------------------------------------------------------

نظم .......... دَ قرآن سره دوستي

دَ چـــا نـصـيـــب چـــي دَ قـــرآن ســره دوستـــي شـــي
نـصيـب ئـــي کـاميـابـي شـي ،رڼا ئـــي زندگـي شـي
دوستـــــــي قـــــــرآن ســـــــره پــــکـــــــار ده
دَ حـــــق بيـــــــان ســـــــره پــــکـــــــار ده
مـــــولا رحـــــمـــن ســــــره پــــکـــــــار ده
کتـــــــاب فـــــرقـــــان ســـــره پــــکـــــار ده
پـــه نـصـيـب دلتـه بـه ئـي هـريـو خـوشحـالـي شـي
دَ چـــا نـصـيـــب چـــي دَ قـــرآن ســره دوستـــي شـــي
سبـــــب دوستـــــي ئـــــي دَ عـــظـــمـــت ده
سبـــــب دوستـــــي ئـــــي دَ عـــــزت ده
ذريـــــعـــــه هـــــم دا دَ راحـــــت ده
اعـــــلا بـــــدلـــــه دَ تـــــلاوت ده
دَ قـــرآن قُـــرب ســـره قـــاري بــــه جـنتــي شـــي
دَ چـــا نـصـيـــب چـــي دَ قـــرآن ســره دوستـــي شـــي
دوستـــــي کـښـــي قُـــرب ئـــي دَ الـــلّـــه دے

طالب كۀ دلته په دُنيا دے
دوستي كښي قُرب ئي دَ آقا ﷺ دے
خبر چي څوك له حق وينا دے
ورله چي ګرانه له قرآن نه جدائي شي
دَ چا نصيب چي دَ قرآن سره دوستي شي

مؤمنه! دا شفا هر چا له
ورله په كار دے راشے خواله
دا تلاوت لره راواخله
دا نصيحت احمده! تاله
تل په راتلو به هر قدم ئي قيمتي شي
دَ چا نصيب چي دَ قرآن سره دوستي شي

---

نظم ........واه ، واه ، ښكلي ختمونه

واه ، واه ، ښكلي ختمونه دَ قرآن دلته دي
ګلونه ښكلي ښكلي ماشومان دلته دي
منظر دے حسين ښكلي
هر در دے حسين ښكلي
وريږي رحمتونه حافظان دلته دي
واه ، واه ، ښكلي ختمونه دَ قرآن دلته دي
واړه او لوئي دي جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مال نهٔ لری طمع
زمونږ دَ کلی ښکلی مشران دلته دی
واه، واه، ښکلي ختمونه دَ قرآن دلته دی
بیا بیا مو مبارک شه
ښکلا مو مبارک شه
دَ ښکلی حق کتاب ښکلی یاران دلته دی
واه، واه، ښکلي ختمونه دَ قرآن دلته دی
هر خواته خوشبوئی ده
هر خواته خوشحالی ده
دَ دین دَ حق کتاب ټول قدردان دلته دی
واه، واه، ښکلي ختمونه دَ قرآن دلته دی
سکون په هر قدم دے
لر شوے هر تورتم دے
احمده! رناګاني دَ جهان دلته دی
واه، واه، ښکلي ختمونه دَ قرآن دلته دی

..................................................................

نظم...... وایه قرآن دَ ربَ کریم

وایه قرآن دَ ربَ کریم
لویه عطا ده دَ ربَ عظیم
په یو یو حرف ....ثواب نیکي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يو يو حرف.....بيا خوشحالي دی
حق نازل كړے الله رحيم
وايه قرآن دَربَ كريم

بخښش په دي به.....دَ هر بشر وی
بخښش په دي به..... دَ لراو بر وی
پناه اُغواړه له هر رَجِيُم
وايه قرآن دَربَ كريم

درجي په دي به ......ستا اُوچتيږي
درته مقام به...... لوئي ملاويږي
هم محافظ دے له هر جَحِيُم
وايه قرآن دَربَ كريم

تول هدايت، تول نصيحت دے
روحانيت دے، تول حقيقت دے
اعلا ئي دلته كښي دے تعليم
وايه قرآن دَربَ كريم

شيرين بيان ...دغه كتاب دے
احمده ! ښكلي ..... دا لاجواب دے
دَ حكمت ډك دے، نوم ئي حكيم
وايه قرآن دَربَ كريم

..............................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظم ......... ملګرې دَ قرآن شته

ملګرې دَ قرآن شه چې راضي درنه رحمٰن شي
نصيب به هر قدم به ستا سکون او اطمينان شي
قرآن نه لرې نه شې درته وايم مسلمانه!
قرآن نه لرې نه شې کۀ هوښيار ئې اې انسانه!
مشکل به هر طرف ته په دُنيا درته اسان شي
ملګرې دَ قرآن شه چې راضي درنه رحمٰن شي
لائق به دَ عزت شې هر طرف ته په عالم
محفوظ به ورسره شې له تورتم له جهنم
مقام به دَ استوګنې ستا جنت ښکلې مکان شي
ملګرې دَ قرآن شه چې راضي درنه رحمٰن شي
هر خواته په جهان به عزتمند محترم شې
عاشق چې د قرآن باندې انسانه! په عالَم شې
هر غم به درنه لرې شي ، هر کار به دې اسان شي
ملګرې دَ قرآن شه چې راضي درنه رحمٰن شي
تل خوش به دَ نيکانو ئې نيکان به ستا وي خوش
دُنيا کښې هر طرف ته صالحان به ستا وي خوش
دوستان به په دُنيا ستا حافظان شي او قاريان شي
ملګرې دَ قرآن شه چې راضي درنه رحمٰن شي
خير خوا دَ هر بشر دې احمده! په جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـچ کیــږي ورســره بــه هر طرف تـه لـه شیـطـان
خـائستــه بــه ورسره اعلا دولت ستا دَ ایـمـان شـي
مـلـګـرې دَ قـرآن شـه چـې راضـي درنـه رحمٰن شـي

-----------------------------------------------------------

## نظم ....... کینه قرآن ته

کــــهٔ دے خــوښـــه وی رښـــا کیـــنــــه قـــرآن تـــه
نــصیــحـــت دغـــه پــکـــار دے هــر انســـان تـــه
دَ شـــفـــا چــې طـلبــګـــاره وی دُنیـــا کښــې
دَ وفـــا چـــې طـــلبـــګـــاره وی دُنیـــا کښــې
تـــوجـــو دې نـــهٔ کـــوی هـــغـــه شیــطـــان تـــه
نــصیــحـــت دغـــه پــکـــار دے هــر انســـان تـــه
دَ ســـکـــون دَ طـــالبـــانـــو ذریـــعـــــه ده
پـــه دُنیــا دَ کـــامیـــابــې دا وسیـلـــــه ده
نــصیــحـــت دغـــه کـــوُم هـــر مسـلـمـــان تـــه
نــصیــحـــت دغـــه پــکـــار دے هــر انســـان تـــه
بـــې لـــه دې نـــه هــدایــت پـــه جهـــان نشتـــه
بـــې لـــه دې نـــه نـــور رحـمـت پـــه جهـــان نشتـــه
مـــخـــامـــخ وی هـــمیشـــه هـــر قـــدردان تـــه
نــصیــحـــت دغـــه پــکـــار دے هــر انســـان تـــه
دا نیـــکـــې دی ثـــوابـــونـــه دی احـــمـــده !

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مولا ښکاره حکمونه دي احمده !

ضرورت ددې کتاب دے ټول جهان ته

نصيحت دغه پکار دے هر انسان ته

................................................................

نظم ...... دَ حق قرآن خبرے هیرے نۀ کړے

پیغام دَ ربَ دَ حق قرآن خبرې هیرے نۀ کړے

دَ خپل محبوب دَ خپل جانان ﷺ خبرې هیرے نۀ کړے

ورته مدام ستا په دُنیا دے ضرورت دلته کښې

هم نصحیت دے، هدایت دے، نور رحمت دلته کښې

دَ خپل امام، په هر مکان خبرې نۀ کړے

دَ خپل محبوب دَ خپل جانان ﷺ خبرې هیرے نۀ کړے

ستا دے خیرخوا ستا رهنما پوره تمام دلته کښې

شیرین صفت دا په دُنیا حسین کلام دلته کښې

دَ زړۀ سکون دَ اطمینان خبرې هیرې نۀ کړے

دَ خپل محبوب دَ خپل جانان ﷺ خبرې هیرے نۀ کړے

مونځ او روژه، هریو اَمر ئې دَ اللّٰه دلته کښې

هریو آیت، هریو اَمر ئې ښۀ بالا دلته کښې

عظیم اوچت دَ حق فرقان خبرې هیرې نۀ کړے

دَ خپل محبوب دَ خپل جانان ﷺ خبرې هیرے نۀ کړے

ښکلې اخلاق دَ محمد ﷺ په کائنات دلته کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري ډير زيات په دي عالَم اعلا صفات دلته کښي
دَ خوږ نبي ﷺ دَ مهربان خبري هيري نۀ کړے
دَ خپل محبوب دَ خپل جانان ﷺ خبري هيرے نۀ کړے
تله عمل په دي ميزان دَ کائنات دلته کښي
احمده ! تل خپل معاملات خپل عبادات دلته کښي
په يو مقام دَ ربّ رحمٰن خبري هيري نۀ کړے
دَ خپل محبوب دَ خپل جانان ﷺ خبري هيرے نۀ کړے

------------------------------------------------------------

نظم ....... نازل شوے له اسمان دے

دَ مولا کرم احسان دے دا قرآن دے دا قرآن دے
نازل شوے له اسمان دے دا قرآن دے دا قرآن دے
دا جبرئيل امين راوړے ، ځان خبر کړه مسلمانه!
هيره نۀ کړے دا خبره ، زما ورروه ! قدردانه
دَ مولا ښکاره برهان دے دا قرآن دے دا قرآن دے
نازل شوے له اسمان دے دا قرآن دے دا قرآن دے
محمد باندي نازل دے عقيده زمونږ دَ ټولو
دا بيان دے دَ يادولو ، دا بيان هم دَ خورولو
أخيري دے عاليشان دے دا قرآن دے دا قرآن دے
نازل شوے له اسمان دے دا قرآن دے دا قرآن دے
هرآيت ئي نصيحت دے ، هدايت دے محبت دے
هرايت کښي ئي عظمت دے ، نور حکمت دے برکت دے

هم سكون تـول اطـمينان دے دا قـرآن دے دا قـرآن دے

نـازل شـوے لـه اسمـان دے دا قـرآن دے دا قـرآن دے

هريـو حـرف ئـي بهتـريـن دے لاجواب دے لاجواب دے

ډيـر حسيـن دے ډيـر شيـريـن دے حق كتـاب دے

دَ نـجـات پـوره سـامـان دے دا قـرآن دے دا قـرآن دے

نـازل شـوے لـه اسمـان دے دا قـرآن دے دا قـرآن دے

دا علاج دے بـه خبـر شـه ، مسلمـانـه تـل لـه دي نـه

دَ سـرتـاج دے بـه خبـر شـه ، اے انسـانـه تل لـه دي نـه

لــه تـحريف نـه پـه امان دے دا قـرآن دے دا قـرآن دے

دَ زړه زنګ پـه دي لـر كيـږي ، اے احـمده ! هر طرف تـه

ورتـه څـوك چـي نـژدي كيـږي ، اے احمده ! هرطرف ته

محـافـظ ئـي ربّ رحـمان دے دا قـرآن دے دا قـرآن دے

نـازل شـوے لـه اسمـان دے دا قـرآن دے دا قـرآن دے

---

نظم ......قرآن دَ مينې محبت كتاب

قـــرآن دَ ميـــنـــي مـــحبـــت كتـــاب دے

راشـــــه ورلـــــه دَ هـــدايـــت كتـــاب دے

دا نـــازل شـــوے لـــه اسـمـــانـــه دے تـــول

دا نـــازل شـــوے لـــه رحـــمـــانـــه دے تـــول

داســـي عـــظيـــم داســـي اُوچـــت كتـــاب دے

راشـــــه ورلـــــه دَ هـــدايـــت كتـــاب دے

جبرئيل راوړے په عزت سره ټول
بيائي لوستلے په عزت سره ټول
څكه د پاك ربُ العزت كتاب دے
راشه ورله د هدايت كتاب دے
دا په سردار د دوجهان نازل دے
دا په نبي آخر زمان نازل دے
د خير خيګړي هر ساعت كتاب دے
راشه ورله د هدايت كتاب دے
ثواب ددي په تلاوت كښي شه ډير
درنه چي نه شي يو طرف ته دا هير
څكه وايم د تلاوت كتاب دے
راشه ورله د هدايت كتاب دے
ددي بدله د رب رضا ملګرو
اعلا اعلا د رب عطا ملګرو
يادساته د نصيحت كتاب دے
راشه ورله د هدايت كتاب دے
په كښي سكون د زړونو دلته مدام
احمده ! دلته ئي لازم احترام
د كاميابي ډك له حكمت كتاب دے
راشه ورله د هدايت كتاب دے

..............................................................



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظم ... پابندي سره قرآن وايه

ورورە اے ورورە ! پـــابـــنـــدي ســـره قـــرآن وايـــه
هــغـــه کـتـــاب مـقـدس  هـغـــه فـرقـــان وايـــه
کـوۀ پـــه شـوق ســره مـدام ئـي تـلاوت دلـتـه کـښـي
ورســره زړه کـښـي تـل پـکـار دے محبت دلـتـه کـښـي
رب نـــازل کـــړے لـــه اســمـــان هـغـــه بيـان وايـــه
رمـــضـــان دے ورورە ! پـــابـــنـدي ســره قـــرآن وايـــه
ســحــر مـــابـنـــام ورتـــه پـــه شـوق سره تـل نـاسـتـه کـوه
پـــام کـــوه پـــام ورتـــه پـــه شـوق سـره تـل نـاسـتـه کـوه
حـق آخيـــری کـتـــاب نـــازل دَ پـــاك سبـحـــان وايـــه
رمـــضـــان دے ورورە ! پـــابـــنـدي ســره قـــرآن وايـــه
اول شـــورو کـښـي بسـم اللّٰـه وئيـل پکار دی پـه کـښـي
بيـــا تـعـوذ وريـســـے تـل لـوسـتـل پـکـار دی پـه کـښـي
ســبـــب دَ زړونـــو د هـــرچـــا دَ اطـمـيـنـــان وايـــه
رمـــضـــان دے ورورە ! پـــابـــنـدي ســره قـــرآن وايـــه
شـك پـــه کـښـي نيشـتـــه دا بيشـکـه دَ مولا کـتـاب دے
شـك پـه کـښـي نيشـتـه کـتـابـونـو کـښـي اعلا کـتـاب دے
ډيـــر پـــه ادب ســـره هـــرځـــائـي دا پـــه جهـان وايـــه
رمـــضـــان دے ورورە ! پـــابـــنـدي ســره قـــرآن وايـــه
رتـــا ښـــوره ده پـــه دُنيـــا ددې کـتـــاب نـــه هـــرخــوا
ښـکـلا پـرتـــه ده پـــه هـرخـوا ددې کـتـاب نـه هرخـوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیـــر خـــوا الحــمــده ! دَ هـــر چـــا دَ مســلــمـــان وایـــه
رمــضـــــان دے وروره ! پـــابـــنـــدي ســـره قـــرآن وایـــه

...............................................................................

نظم ........... ختم چې قرآن شو

زمـونـــږ پـــه کـــلـــی کښـــې نـن خـتـم چـې قـــرآن شـــو
خـوشـحـالـه هرانسـان شـو ........... بیا بیا مو مبارك شه
ښـــکـــلـــي خــــائسـتـــــه ورســـره دغـــه ټول جهــان شـــو
خـوشـحـالـه هرانسـان شـو ........... بیا بیا مو مبارك شه
خــــوشـــــحـــــــالـــــی دا زمــــونــــــږ دَ ټـــولــــو
هـــم پـــــــه حـــــــافـــــظ چـــــي ئــــي يــــادولـــو
پـــــه دي عـــمـــل ســـره هـــريـــو ښـــــهٔ قــدردان شـــو
خـوشـحـالـه هرانسـان شـو ........... بیا بیا مو مبارك شه
خـــوشبـــو خـــوشبـــو فـــضـــــا شـــوه ټـــولـــــــه
خـــوشبـــو خـــوشبـــو هـــوا شـــوه ټـــولـــــــه
دَ پســـرلـــی پـــه شـــان هـــرخـــوا ښـــکـلـي دوران شـــو
خـوشـحـالـه هرانسـان شـو ........... بیا بیا مو مبارك شه
ښـــکـــلـــي مـــنـــظـــر حسیـــن مـــــاحـــول شـــو
ښـــکـــلـــی هـــردر حسیـــن مـــــاحـــول شـــو
وړوکـي ، لـوئـي پـــه خـوشـحـالـي هر مسـلـمـان شـو
خـوشـحـالـه هرانسـان شـو ........... بیا بیا مو مبارك شه
جـــمـــــاعـــت شـــو ډك لـــــه انســـــانـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ورو ، لـــــــويـــــــو مشـــــــــــرانـــــــو
احـــمــده ! بنــــكــلـــي ورســـره ستـــا هــم بيـــان شـــو
خـوشـحـالـه هرانسان شـو .......... بيا بيا مو مبارك شه

.................................................................................

نظم ....... ختمونه دَ قرآن چي وي

ختـــمـــونـــه دَ قـــرآن چــي وی وریــږی رحـمـتـونـــه
خـوشبـوخـوشبـو مـاحـول وی ورسـره وی بـرکـتـونــه
ســـکـــون وی ورســـره هـم اطـمـيـنـــان پـــه هـــر قـدم
تـــــرلـــــي ورســــــره وی دَ مـــولا رحـــم وکـــــرم
ختــمـيــــږی ورســــره دَ هـــر بشــر دَ ژونـد غـمـونــه
خـوشبـوخـوشبـو مـاحـول وی ورسـره وی بـرکـتـونــه
پـــه دي ســـره زيـــاتيــــږی خـوشـحـــالـي دَ هـر بشـر
پـــه دي بـــه مـلاويـــږی خـوشـحـــالـی پـــه لـراوبـر
زيـــاتيـــږی ورســـره پـــه هــرطـرف تـل نـعـمـتـونــه
خـوشبـوخـوشبـو مـاحـول وی ورسـره وی بـرکـتـونــه
ثـواب بـدلــه ئـي لـويــه دَ مـحشــر پـه لـوئـي ميـدان
مــقـــام ډيـــرزيـــات اُوچـت دے دَ هـر حـافـظِ قـرآن
بـــدلـــه دَ تــلاوت بـــه پـــه مـحشـر وی جـنتـــونـــه
خـوشبـوخـوشبـو مـاحـول وی ورسـره وی بـرکـتـونــه
شـــفـــا دَ هــــرزنـــځـورا حـمـده ! تـل پـــه دي دُنيـــا
بيـــان هـــريـــو کـلام لـــری واضـحـــه بنـــۀ صـفـــا

حسین ورسره هرخوا دَ جهان وی محفلونه
خوشبو خوشبو ماحول وی ورسره وی برکتونه

..............................................................................

## نظم .....قرآن راواخله

قرآن رواخله مدرسې ته څه
دَ انوارانو باغیچې ته څه
لاړ شه بچیه چې حافظ جوړ شې
خوږه امې څویه چې حافظ جوړ شې
لاړ شه عظیمې اداري ته څه
قرآن رواخله مدرسې ته څه
ستا به عزت په هر مقام وی
ستا چې سینه کښې حق کلام وی
ورځه، ورځه ښکلې حلقې ته څه
قرآن رواخله مدرسې ته څه
ته دَ الله به شې محبوب
ته دَ هرچا به شې محبوب
ورځه دَ علم نور چینې ته څه
قرآن رواخله مدرسې ته څه
ستا به محشر به لوئې مقام وی
مخ نوراني به دې تمام وی
دَ کامیابۍ سکون حصې ته څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قــــرآن رواخـــلــــــه مــدرســــي تـــــه څـــــه
دغــــــه د مـــور ويـــنـــــا ده څـــوئـــي تـــــه
يـــــا ده ويـــنـــــا دَ پـــلار بـــچـــى تـــــه
دَ كـــــاميــــــابــــي دي دروازي تــــــه څـــــه
قـــرآن رواخـــلـــــه مــدرســــي تـــــه څـــــه

---

نظم ......ووايه قرآن مهٔ هيروه دا

ووايــــــــه قـــــرآن .... مــــــــهٔ هيـــــروه دا
ځـــان نـــهٔ كـــړے لـــه دي نـــه .... هيـڅ كـلـــه جُـدا
وايـــــه ښـــــه شـــوق ، بـــوج نـــهٔ كــړے پـــه ځـــان
اُوســـــاتــــــه ســيــنـــــه كښـــي دا ښــكــلـــي قـــرآن
هـــريـــوه خبـــره ښــــــهٔ ښـــكــــاره صـــفـــــا
دا دَ هـــــــر بشـــــــر دلتـــــــــه ضـــــــرورت
دا دَ لـــــــــراو بـــــــر دلتـــــــــه ضـــــــرورت
زړونــــــه صـــفـــــاكيـــــږي دي ســـره هـــرخـــوا
دا د ژونـــــد دستـــــورد هـــــريـــــو بشـــــر
دا كـــوى پـــــه زړونـــو هـــرخـــوا تــــه اثـــر
دَ هـــــريــــو كــلام نـــــــه ، دا كــــلام اعــــلا
ووايــــــــه قـــــرآن مـــــــــهٔ هيـــــروه دا
دا تـــول هــدايـــت دے څـــوك چـــي وى طـــالـــب
كتـــاب دَ حـــكـــمـــت دے څـوك چــي وى طـــالـــب

هيڅ کله چې نۀ کړې دلته ورته شا

ووايه قرآن مۀ هيروه دا

تل ئې په لوستلو هر خواته ثواب

اے احمده! دلته دا دے لاجواب

هم دا وسيله ده دلته دَ شفا

ووايه قرآن مۀ هيروه دا

--------------------------------------------------------------

نظم ...... رب رالېږلے يم دُنيا ته

رب رالېږلے يم دُنيا ته نصيحت دَ پاره

عمل دَ پاره يم راغلے، تلاوت دَ پاره

په ډير ادب په احترام سره نزدې شے ماته

مه مې پرېږدې په يو مقام يو ځائې دُنيا کښې شاته

ستاسو خير خوا يمه، زۀ ستاسو يم نُصرت دَ پاره

عمل دَ پاره يم راغلے، تلاوت دَ پاره

راته سپك مۀ ګورې كۀ غواړے كاميابي اے خلقو!

خائسته كۀ غواړې پس له مرګه زندګي اے خلقو!

رب رالېږلے يم دُنيا كښې ټول خِلقت دَ پاره

عمل دَ پاره يم راغلے، تلاوت دَ پاره

ته يم راغلے چې زماته تعويذونه جوړ شي

صرف زما دَ پاره ښكلي غلافونه جوړ شي

زۀ خو رڼا يمه دَ هر قسمه ظُلمت دَ پاره

عمل دَ پاره يم راغلے، تلاوت دَ پاره
د حق باطل په مينځ كښې فرق حق ميزان دلته يم
ما ته نزدې شے خوشبوئى دَ هر مكان دلته يم
ربَ راليږلے يمه احمده! ټول اُمت دَ پاره
عمل دَ پاره يم راغلے، تلاوت دَ پاره

---

## نظم .....ختمونه دَ قرآن دى

دا جمع شوى په جمات كښې چې كسان دى
ختمونه دَ قرآن دى ..... دَ ربَ رضا دَ پاره
په جمع ټول دَ ثوابونو طالبان دى
ختمونه دَ قرآن دى ..... دَ ربَ رضا دَ پاره
ورسره زړونه خوشحاليږى
سكون ورسره ملاويږى
راغلى هم دَ علاقې ګڼ عالمان دى
ختمونه دَ قرآن دى ..... دَ ربَ رضا دَ پاره
خوشبو په هر طرف خوريږى
شيطان خفګان كوى ژړيږى
واړه اولوئې دَ علاقې هم مشران دى
ختمونه دَ قرآن دى ..... دَ ربَ رضا دَ پاره
سَم دَ اختر په شان منظر دے
خوشحاله دلته هر بشر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول دَ قرآن راجمع شوی عاشقان دی
ختمونه دَ قرآن دی ..... دَ ربَ رضا دَ پاره
یو دے سامع دَ حق کتاب
بل دے لوستونکي لاجواب
مستحق دواړه ډیر دَ اجر په جهان دی
ختمونه دَ قرآن دی ..... دَ ربَ رضا دَ پاره
دَ ډیر محنت دا نتیجه ده
احمده ! نن ئي دا صله ده
ورسره هم د دوی خوشحاله اُستاذان دی
ختمونه دَ قرآن دی ..... دَ ربَ رضا دَ پاره

..........................................................................

نظم ......بیا ختم دَ قرآن دے

بیا ختم دَ قرآن دے عالمان دی راغلی
دَ کلی محلي نه مشران دی راغلی
واړه ورسره هم دَ محلي راجمع شوی
خوشحاله شوق سره ټول په جذبي راجمع شوی
له خواؤ شا ، له کلو نه قاریان دی راغلی
بیا ختم دَ قرآن دے عالمان دی راغلی
دَ ربَ رضا دَ پاره جمع شوی په جمات کښي
دوی ټول دُعا دَ پاره جمع شوی په جمات کښي
په دین باندي مئین ټول عاشقان دی راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيـــا ختـم دَقـــرآن دے عـــالـمـــان دی راغـلـــی
جـمـات کښـي بــه هـم ذکـر هـم بيـان دَعـلـماء وی
جـمـات کښـي بــه رڼـا ورسـره هر طَرف ښـکـلا وی
دَ ډيــرو ثـــوابــونــو طَـالبـــان دی راغـلـــی
بيـــا ختـم دَقـــرآن دے عـــالـمـــان دی راغـلـــی
د دوی سـره پــه نـاستــه کښــي شـفـا دَ هـرآدم ده
د دوی سـره پــه نـاسـتـه کښـي ښـکـلا دَ ټول عـالَـم ده
احـمـده ! ښـکـلـی ښـکـلـی اُستـاذان دی راغلی
بيـــا ختـم دَقـــرآن دے عـــالـمـــان دی راغـلـــی

............................................................................

نظم ......... ختمونه دَقرآن دی

هـــوا پـــه هـــر طَـــرف دَ پســـرلـــی راغـلـــے ده
ختـــمـــونـــه دَقـــرآن دی خـوشـحـالـــی راغـلـــے ده
ورســـره نـــازلـيـــږی لـــه آسـمـــانـــه رحـمـتـونـــه
ورســـره مـلاويـــږی مسـلـمـــانـــه ! بـرکـتـونـــه
اختــر دے ســمـــه هـرخـواتـــه ښـادی راغـلـــے ده
ختـــمـــونـــه دَقـــرآن دی خـوشـحـالـــی راغـلـــے ده
قـــرآن دَ ربّ کتـــاب دے ، پـــه دي اُوکـــړهٔ تـل عـمـل
مـقـام بـه دے جـنـت کښـي شـی حسـين خائسـتـه محل
دُنيـــا کښــي کـــاميـــابـــی لـــره چـــابـی راغـلـــے ده
ختـــمـــونـــه دَقـــرآن دی خـوشـحـالـــی راغـلـــے ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدله دَيو يو حرف ئې لس نيکې دی په جهان
راضی به په بدله کښې درنه شی غنی سبحان
محشر له طريقه دَتياری راغلے ده
ختمونه دَ قرآن دی خوشحالی راغلے ده

دَژوند ښکلې دستور، زمونږ دَژوند حسن ښکلا
قرآن دا په دُنيا کښې ښه اُوچت دے ښۀ بالا
مولانه په حضور ﷺ دغه وحی راغلے ده
ختمونه دَ قرآن دی خوشحالی راغلے ده

احمده! خوشحالی دَکامیابی دا ذریعه
محشر کښې تلاوت دَترقی دا ذریعه
هرچا له حقیقت کښې زندگی راغلے ده

---

## نظم ..... قرآن دَکامیابی دَپاره

قرآن دَکامیابی دَپاره لويه وسيله ده
نزدې ورسره اُوسه، له شيطانه کۀ خطره ده
په دې به تۀ محفوظ له هر شيطان نه په دُنيا ئې
په دې به تۀ محفوظ له هر نقصان نه په دُنيا ئې
وينا دَپاك الله ده، دا وينا ډيره خوږه ده
قرآن دَکامیابی دَپاره لويه ذريعه ده

چې شا دې ورته نشی نصيحت درته کومه
دُنيا کښې نصيحت دا هر ساعت درته کومه

رنا رنا هر حرف لری، رنا ئي هر صفحه ده

قرآن دَ کاميابي دَ پاره لويه ذريعه ده

محشر کښي له عذاب نه حفاظت په دغي کيږی

له بد انجام خراب نه حفاظت په دغي کيږی

جنت کښي نعمتونه ئي حسينه ښهٔ بدله ده

قرآن دَ کاميابي دَ پاره لويه ذريعه ده

شيطان به درنه تختی ، چي قرآن کله تهٔ وائے

شيطان به درنه تختی دا قرآن چي بل ته ښائے

اثر نه دَ قرآن داسي دُنيا کښي هر حصه ده

قرآن دَ کاميابي دَ پاره لويه ذريعه ده

احمده ! ثوابونه دَ مولا رحم وکرم دے

ملګري چي دي داوی نو دَ څه درسره غم دے

دُنيا کښي داسي دلته لاثانی لويه نسخه ده

قرآن دَ کاميابي دَ پاره لويه ذريعه ده

---

نظم .....دَ چا سينه کښي چي قرآن دے

دَ چا سينه کښي چي قرآن دے

خورمه قسم چي عاليشان دے

محفوظ به وی هر عذاب نه

محروم به نهٔ وی له ثواب نه

څوك چي په نيغه لار روان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ چا سینه کښې چې قرآن دے
ناکامه نه وی په یو باب
چې وی عاشق دحق کتاب
له هر شیطانه په امان دے
دَ چا سینه کښې چې قرآن دے
ورله سکون په هر عالم شته
ښکلي ژوندون ورله ښۀ سَم شته
داسې اثر دَ حق بیان دے
دَ چا سینه کښې چې قرآن دے
ورته جنت به ملاوېږی
هر یو عزت به ملاوېږی
خوك دَ قرآن چې قدردان دے
دَ چا سینه کښې چې قرآن دے
خیر خوا دَ ټولو په دُنیا دا
احمده! ښۀ خوږه وینا دا
زما په دې پوره ایمان دے
دَ چا سینه کښې چې قرآن دے

---

نظم .....حصه چې کله جوړه دا قرآن شی دَیو ذات

حصه چې کله جوړه دا قرآن شی دَیو ذات
په کښې به خامخا راشی ښائسته ښکلی صفات

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په هر مقام به لټوی دَربّ رضا

ګوری به دَقرآن په آئینه کښې معاملات

مونځونه او روژې هریو عمل به وی خائسته

په تله دَقرآن چې وی پوره ټول عبادات

فکر دَ آخرت سره ترلې به هر دم وی

قرآن کښې به حل ګوری د دُنیا دَ مشکلات

چې مل ئې وی قرآن ورسره غم به بیا دَ څه وی

پوره پوره ښه سَم به وی ئې هرخوا ته په حالات

چې کلکه عقیده لری او پوخ ئې وی یقین

په دۀ باندې ښکاره به دَقرآن وی اثرات

احمده! هر عمل کښې پیروی چې دَ قرآن وی

په مخ په ټول وجود به لری هغه انوارات

---

## نظم ........ قرآن چې وائی څوك

قرآن چې وائی څوك په حقیقت کښې ډیر حسین وی

دربّ هغه نیازنین وی ....... خبرې دَ مولا دی

مخلوق کښې درته وایمه ښه غوره بهترین وی

دربّ هغه نیازنین وی ....... خبرې دَ مولا دی

چې څوك وائی قرآن.......... جدا لری لوئې شان

چې څوك وائی قرآن ....... محبوب وی دَ رحمان

هریو دَ تلاوت خاوند زبان سره شیرین وی

درب هغه نیازنین وی ....... خبري دَ مولا دی

دا نور دے هدایت ....... هرچاله هر ساعت

پیغام دَ اُخوَت ...... هرچاله هرساعت

ډیر زیات دے خوش نصیب چې ورسره څوك همنشین وی

درب هغه نیازنین وی ....... خبري دَ مولا دی

دَ زړونو صفائی له ....... مدام ئې تلاوت کړه

هرخواته کامیابي له ..... مدام ئې تلاوت کړه

اثر ددي کتاب دے چې حافظ به ئې ذهین وی

درب هغه نیازنین وی ....... خبري دَ مولا دی

محفوظ ئې کړه سینه کښې .....احمد وائی هر چاته

وایه په ورځ او شپه کښې ...... احمد وائی هرچاته

وینا دا حقیقت دے دَ قرآن سمه ګبین وی

درب هغه نیازنین وی ....... خبري دَ مولا دی

..............................................................

تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وبعونه

وصلی اللّٰه تعالیٰ علی خیر خلقه محمد وآله واصحابه

واهل بیته اجمعین ومن تبعهم باحسان الی یوم الدین.

آمین یا ربّ العالمین

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**